امیرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ کتاب "550 سُنّت او آداب" یو قسط "په نوم"

نوم کیښودو 18 سُنَّت او آداب

(نورو اهمو سُنّتو او آدابو سره)

پشتو

- عقیقې 25 سُنّت او آداب
- خلور څیزونه دکومود ښخولو چې حکم دے
- عمامې [پټکې] 25 سُنّت او آداب
- گوتمې ضروري حکمونه

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(دا مضمون د کتاب "550 سُنتیں اور آداب" د صفحه 38، 40 نه 44 او د 54 نه تر 68 پورې نه اخستے شوې ده)

د نوم کیښودو 18 سُنَّت او آداب

(د نورو اهمو سُنَّتو او آدابو سره)

دُعائے عطار: یا رَبِّ مصطفٰے ! څوک چې دا رساله "د نوم کیښودو 18 سُنَّت او آداب (د نورو اهمو سُنَّتو او آدابو سره)" اولولي که واوري هغوئ له هر کار د سُنَّت مطابق د کولو سعادت ورکړې او هغوئ د خپل د ټولو نه د آخري نبي صَلَّی اللّٰه عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو سبکاره تصویر جوړ کړې-

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّی اللّٰه عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان: چاته چې څه سخته ورپیښه شي هغه ته په ما باندې زیات دُرُود لوستل پکار دي ځکه چې په ما باندې دُرُود لوستل مصیبتونه او بلاګانې لرې کوي-

(القول البد یع، ص 414 ـ بستان الواعظین للجوزی، ص 274)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د نوم کیښودو په باره کښې 18 سُنَّت او آداب

﴿1﴾ د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه فرامین: (1) د ښه [ګسانو] په نومونو باندې نوم کیږدئ [1] (2) د قیامت په ورځ به تاسو ستاسو او ستاسو د پلارانو په نومو سره رابللے شئ ځکه خپل ښه نومونه کیږدئ [2] ﴿2﴾ حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د ماشوم دې ښه نوم کیښودے شي، په هندوستان کښې د خلقو داسې نومونه دي د کومو چې څه معنې نشته یا د هغې معنې غلطې دي د داسې نومونو نه ډډه اوکړئ- د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په اسمائے طیبه (یعني پاکو نومونو) او د صحابۂ کرامو او تابعینو او بزرګانِ دین (رِضْوَانُ اللہِ عَلَیْہِمْ اَجْمَعِیْن) په نومونو باندې نومونه کیښودل بهتره خبره ده، طمع ده چې د هغوئ برکت به په ماشوم کښې کیښودے شي [3] ﴿3﴾ که ماشوم ژوندے پیدا شي او که مړ که د هغه خلقت (یعني بدن) ټول (یعني پوره) وي او که پوره نه وي، بهر حال د هغه نوم دې کیښودے شي او د قیامت په ورځ به د هغه حشر وي (یعني راپاڅولے به شي) [4] معلومه شوه چې کوم ماشوم کچه پریوځي د هغه دې هم نوم کیښودے شي- لکه څنګه چې د دعوتِ اسلامي په مکتبة المدینه رساله "اولاد کے حقوق" په صفحه 17 باندې دي: نوم کیږدئ تر دې پورې چې د کچه ماشوم هم کوم چې په کمو ورځو کښې اوغورځیږي ګنې نو الله پاک ته به شکایت کوي د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د ګچه ماشوم نوم کیږدئ

چې الله پاک به د دې په ذریعه ستاسو میزان (یعني د عمل تَله) درَنوي [5] ﴿4﴾ د "محمد" نوم کیښودو په باره کښې د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دري فرامین: **(1)** د چا چې هلک پیدا شي او هغه زما په محبت او زما د نوم نه د برکت حاصلولو د پاره د هغه نوم محمد کیږدي هغه او د هغه هلک دواړه به جنت ته ځي [6] **(2)** د قیامت په ورځ به دوه ګسان د الله پاک په حُضور کښې اودرولے شي، حکم به کیږي: دوئي جنت ته بوځئ- عرض به اوکړي: یا الله! مونږه په کوم عمل باندې د جنت قابل شو؟ مونږه خو د جنت هیڅ کار نه دے کړے! فرمائي به: جنت ته لاړ شئ، ما حلف کړے دے چې د چا نوم احمد یا محمد وي دوزخ ته به نه ځي [7] **(3)** په تاسو کښې د چا څه نقصان دے که چرې د هغه په کور کښې یو محمد یا دوه محمد یا درې محمد وي- [8] د دې حدیثِ پاک د نقل کولو نه پس چې اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ څه لیکلي دي د هغې خلاصه ده: ځکه ما د خپلو ټولو ځامنو، وریرونو په عقیقه کښې صرف محمد نوم کیښودلو بیا د نوم مبارک د آدابو حفاظت او د ماشومانو پیژندګلو چې اوکړے شي دې د پاره مې عرف (یعني د رابللو نومونه) بیل مقرر کړل- **بِحَمدِ الله** پینځه محمد اوس هم موجود دي ولې د پینځوؤ نه زیات په خپله لاره تلي دي یعني وفات شوي دي- [9] د حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ خپل، د والد صاحب او د [والد صاحب د طرف نه د] نیکه بابا مبارک نوم محمد وو یعني محمد بن محمد بن محمد- حضرت اَیمن ابو البرکات بن محمد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هغه عظیمه هستي ده د چا په سلسلهٔ

نَسَب کښې چې پرله پسې د 14 پیړو پورې د پلار نیکونو نوم محمد تیر شوے دے۔ (10) ﴿5﴾ د محمد نوم والا ګس برکت: روایت دے چې څه خلق په یوه معامله کښې د مشورې د پاره راجمع شي او په هغوئي کښې محمد نوم والا یو ګس هم وي او هغوئي د هغه نه مشوره اونه غواړي نو هغوئي ته به په هغه کار کښې کامیابي نه حاصلیږي۔ (11) ﴿6﴾ د نارینه اولاد د پاره عمل: تابعي بزرګ امام عطا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې غواړي چې د هغه د ښځې په حمل کښې دې هلک وي، هغه له پکار دي چې خپل لاس د (حامله) ښځې په ګیډه باندې کیږدي او اووائي: ”که چرې هلک وي نو ما د ده نوم محمد کیښودو۔“ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! هلک به کیږي (12) ﴿7﴾ نن سبا مَعَاذَ الله د نوم ورانولو وَبا عامه ده او د محمد نوم ورانول خو ډیره سخته د تکلیف خبره ده۔ ځکه د هر نارینه نوم محمد یا احمد کیږدئ او عرف یعني د رابللو د پاره ئې د بزرګانو په نومو کښې آسان تلفظ والا نوم کیږدئ ﴿8﴾ جبریل یا میکائیل وغیره نوم مه ږدئ۔ د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د فرښتو په نوم باندې نوم مه ږدئ (13) ﴿9﴾ محمد نبي، احمد نبي، نبي احمد نوم کیښودل حرام دي (14) ﴿10﴾ کله چې هم نوم ږدئ د هغې د معنې د یو سُني عالم نه پوښتنه اوکړئ، د غَلَطې معنې والا نوم مه ږدئ مثلاً د غفورُ الدین معنیٰ ده: د دین ختمولو والا، دا نوم کیښودل ډیر بد کار دے۔ غلط نومونه غلط اثر لري هم دغسې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د

غلطو نومونو ډير غلط اثر په خپلو سترګو ليدلے دے، ښه ښکلي سُني صورت مې په آخري عمر کښې دين پټولو والا او د باطل د پاره کوشش کولو والا موندلے دے ﴿11﴾ [15] د نوم اثرات په راتلونکي نَسل کښې هم راتلے شي، د "بهارِ شريعت" په جلد 3 صفحه 601 باندې 21 نمبر حديث دے: په "صحيح بخاري" کښې د سعيد بن مُسَيَّب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے: زما [د پلار د طرف نه] نيکه د رسولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شولو- حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پوښتنه اوکړه: ستا څه نوم دے؟ هغوئ اووئيل: حزن- اوئې فرمائيل: ته سهل ئې- يعني خپل نوم "سهل" کيږده چې د دې معنیٰ ده نرم او "حزن" سخت ته وئيلے شي- هغوئ اووئيل چې کوم نوم زما پلار ايښودے دے هغه به نه بدلووم- سعيد بن مسيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وائي: د دې نتيجه دا شوه چې په مونږ کښې اوسه پورې سختي ده ﴿12﴾ [16] يٰسين يا طٰهٰ نوم کيښودل منع دي- [17] محمد ياسين نوم هم مه ږدئ، آؤ که چرې اوغواړئ نو غُلام ياسين او غلام طٰهٰ نوم کيږدئ ﴿13﴾ په بهارِ شريعت حصه 15 د "عقيقے کا بيان" کښې دي: عبدُ الله او عبد الرحمان ډير ښکلي نومونه دي خو په دې زمانه کښې دا اکثر ليدلے شي چې د عبد الرحمان په ځائے هغه ګس ته ډير خلق رحمان وائي او د الله نه بغير بل چاته رحمان وئيل حرام دي- دغه شان عبد الخالق ته خالق او عبد المعبود ته معبود وائي په داسې قِسمه نومونو کښې دې داسې ناجائزه ترميم هيڅکله هم نه

کولے کیږي- دغه شان په ډیرو زیاتو نومونو کښې تصغیر (یعني د وړوکي کولو) رواج دے یعني نوم داسې ورانوي د کوم نه چې حقارت ووځي او په داسې نومونو کښې دې تصغیر (یعني وړوکوالے) هیڅکله هم نه کولے کیږي ځکه چرته چې دا ګمان وي چې په نومونو کښې به تصغیر کولے شي هغه نومونه دې نه کیښودلے کیږي نور نومونه دې کیښودلے شي- [18] ﴿14﴾ کوم نومونه چې غلط وي هغه بدلول پکار دي او ښه نوم کیښودل پکار دي ځکه چې د خپل اُمَّت سره محبت کوونکي خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به غلط نومونه په (ښه نومونو سره) بدلول- [19] د یوې زنانه نوم عاصِیَه (یعني ګنهګاره) وو، رسولِ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او جمیله ئې کیښودو [20] ﴿15﴾ داسې نومونه کیښودل منع دي په کومو کښې چې د خپلې خُلې نه ځان ته ښه وئیل یعني د خپلې خُلې نه خپل صفت کول بیامونده شي- په 27 سیپاره سورۃ النجم آیت 32 کښې د الله پاک ارشاد دے: ﴿فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ﴾ ترجَمۂ کنزُ العرفان: ”نو تاسو پخپله د خپلو ځانونو پاکي مه بیانوئ-“ اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د ”فصولِ عمادي“ په حوالې سره لیکلي دي: څوک دې د خپل نوم سره داسې نوم نه وږدي په کوم کښې چې تزکیه یعني د خپل لوئي والي او تعریف اظهار وي- [21] په مسلم شریف کښې دي: سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ”بَرَّہ“ (یعني نیکه بي بي) نومې زنانه نوم بدل کړلو او ”زینب“ ئې کیښودلو او اوئې فرمائیل: ”خپلو ځانونو ته تاسو (یعني

پخپله) نبه مه وائیئ- اللہ پاک نبه پوهیږي چې په تاسو کښې نیک څوک دے"[22] ﴿16﴾ داسې نومونه کیښودل جائز نه دي کوم چې د غیر مسلمو د پاره خاص وي- په فتاوٰی رضویه جلد 24 صفحه 663 نه 664 باندې دي: د نومونو یو قِسم د کُفارو سره خاص دے لکه جِرجِس، پطرُس او یُوحَنّا وغیره ځکه دا قسم نومونه د مسلمانانو د پاره کیښودل جائز نه دي ځکه چې په دې کښې د کُفّارو سره مشابهت کیږي- **واللہ تعالٰی اعلم**- ﴿17﴾ غلام محمد او احمد جان نوم کیښودل جائز دي خو بهتره دا ده چې غلام یا جان وغیره لفظ زیات نه کړے شي- د پاره د دې چې د محمد او احمد نوم چې کوم فضیلتونه په حدیثونو مبارکو کښې راغلي دي هغه حاصل شي ﴿18﴾ غُلامِ رسول، غُلامِ صدیق، غُلامِ حسین، غُلامِ غوث، غُلامِ رضا نوم کیښودل جائز دي-

د عقیقې 25 سُنَّت او آداب

﴿1﴾: د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: "هلک په خپله عقیقه کښې ګانړه دے په اوومه ورځ دې د هغه د طرف نه څاروے ذبح کړے شي او د هغه نوم دې کیښودے شي او سر دې ورله اوخَریلے شي-"[23] د ګانړه کیدو مطلب دا دے چې د هغه نه به پوره نفع نه حاصلیږي تر څو پورې چې عقیقه اونکړے شي او بعضې (مُحَدِّثِینو) وئیلي دي چې د ماشوم سلامتیا او د هغه روزنه پالنه او د هغه نبه خوبیانې کیدل د عقیقې سره تړلي دي[24] ﴿2﴾ د ماشوم په شکریه کښې چې کوم څاروے ذبح

کولے شي هغې ته عقیقه وئیلے شي [25] ﴿3﴾ چې کله ماشوم پیدا شي نو مستحب دا دي چې د هغه په غوږ کښې اَذان او اِقامت اووئیلے شي- د اَذان وئیلو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰه اَلْکَرِیم! بلاکاني لرې شي- ﴿4﴾ بهتره دا ده چې په ښي غوږ کښې څلور ځله اَذان او په کَڼ [کینړ] غوږ کښې درې ځله اِقامت اوکړے شي ﴿5﴾ په ډیرو خلقو کښې دا رواج دے چې هلک پیدا شي نو اَذان ورته کولے شي او چې جینئ پیدا شي نو [اَذان ورته] نه کوي- داسې نه ده پکار بلکه که جینئ پیدا شي نو بیا دې ورته هم اَذان او اِقامت اوکړے شي ﴿6﴾ په اوومه ورځ دې د هغه نوم کیښودے شي او د هغه سر دې اوخَریلے شي او د سر خَریلو په وخت دې عقیقه اوکړے شي- او ویښته دې وَتَللے [یعني وزن کړے] شي او هغې همره سپین زر یا سره زر دې صَدَقه کړے شي [26] ﴿7﴾ د هلک په عقیقه کښې دې دوه چیلي او د جینئ په هغې کښې دې یوه چیلئ [بیزه] ذبح کړے شي یعني د هلک په هغې کښې نَر څاروے او د جینئ په هغې کښې ښځه څاروے مناسب دے- او که د هلک په عقیقه کښې چیلئ [بیزې] او د جینئ په هغې کښې چیلے [ذبح] کړے شي نو بیا پکښې هم څه باک نشته [27] ﴿8﴾ (د هلک د پاره که د دوؤ) وَس نه وي نو بیا یو هم کافي دے [28] ﴿9﴾ د قربانئ په اوښ وغیره کښې هم د عقیقې شرکت کیدے شي ﴿10﴾ عقیقه فرض یا واجب نه ده صرف سُنَّتِ مُستَحَبَّه ده، (که چرې ګنجائش وي نو ضرور کول پکار ده، که اوئې نکړې نو ګناه پکښې نشته البته د عقیقې د ثواب نه محرومي ده) د غریب سړي د پاره هیڅکله هم جائز نه ده

چې په سود قرض راواخلي او عقیقه اوکړي [29] ﴿11﴾ ماشوم که چرې د اوومې ورځې نه مخکښې مړ شو نو د هغه د عقیقې نه کولو سره د هغه په شفاعت وغیره باندې هیڅ اثر نه پریوځي چې هغه د عقیقې د وخت نه مخکښې مَړ شو- آؤ چې په کوم ماشوم د عقیقې وخت راغلے یعني 7 ورځې ئې اوشوې او بغیر د څه عُذر نه د وَس لرلو باوجود د هغه عقیقه اونکړے شوه نو د هغه د پاره دا راغلي دي چې هغه به د خپل مور پلار شفاعت اونکړے شي [30] ﴿12﴾ عقیقه د پیدا کیدو په اوومه ورځ کول سُنَّت ده او دا افضل ده، ځکه بیا په څوارلسمه، ځکه په یویشتمه ورځ- [31] او که چرې په اوومه ورځ اونکړے شي نو چې کله اوغواړي کولے ئې شي، سُنَّت به ادا شي [32] ﴿13﴾ د چا چې عقیقه نه وي شوې هغه په ځوانئ، بودا والي کښې هم خپله عقیقه کولے شي [33] لکه څنګه چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت د اعلان نه پس پخپله خپله عقیقه اوکړله [34] ﴿14﴾ بعضې (علمائے کرامو) دا وئیلي دي چې په اوومه یا څوارلسمه یا په یویشتمه ورځ یعني د اووه ورځو لحاظ دې اوساتلے شي دا بهتره ده او که یاد نه وي دا دې اوکړي چې په کومه ورځ ماشوم پیدا شوے وي هغه ورځ دې یاده کړي د هغې نه یوه ورځ مخکښې چې کومه ورځ کله راشي نو هغه به اوومه وي، مثلاً که چرې د جُمعې په ورځ پیدا شو نو د (ژوند هر) زیارت (د هغه) اوومه ورځ ده- [35] که چرې د پیدائش ورځ یاده نه وي نو چې کله اوغواړي اودې کړے شي ﴿15﴾ د ماشوم د سر خَریلو نه پس په سر باندې د زعفران پیسټ لګول بهتر دي [36]

﴿16﴾ بهتره دا ده چې د عقیقې د څاروي هډوکي مات نه کړے شي بلکه د هډوکو نه غوښه لرې کړے شي دا د ماشوم د سلامتیا د پاره نیک فال دے او چې هډوکے مات کړے شي او غوښه ویستلے شي نو په دې کښې هم څه باک نشته- غوښه چې څنګه اوغواړئ پخولے شئ خو که چرې خوږه پخه کړے شي نو د ماشوم د ښه اخلاقو لرلو فال دے- [37] ﴿17﴾ د خوړې غوښې پخولو دوه طریقې: **(1)** یو کلو غوښه، نیم کلو خواږه ماسته، اووه دانې وَړه لاچې، 50 ګرامه بادام، د ضرورت مطابق غوړې یا تیل، ټول د یو بَل سره ګډ کړئ او پاخه ئې کړئ، د پخیدو نه پس د ضرورت مطابق پکښې شیره واچوئ- د ښکلا د پاره د ګاځرو نرئ نرئ ریشې جوړې کړئ د دې سره سره وَسکې وغیره هم اچولے شئ **(2)** په یو کلو غوښه کښې نیم کلو چقندر واچوئ او د معمول مطابق ئې پخه کړئ ﴿18﴾ په عوامو کښې چې ډیره مشهوره ده چې د عقیقې غوښه دې د ماشوم مور پلار او [د پلار د اړخه] نیا نیکه، د [مور د اړخه] نیا نیکه نه خوري دا بالکل غلطه خبره ده د دې هیڅ ثبوت نشته [38] ﴿19﴾ د دې د څرمن هغه حکم دے کوم چې د قربانئ د څرمن دے چې پخپله ئې صرف (یعني استعمال) کړئ یا غریب له ئې ورکړئ یا په بَل یو نیک کار جُمات یا مدرسه کې ئې صرف کړئ [یعني اولګوئ] [39] ﴿20﴾ د عقیقې څاروے د هغه شرطونو سره پکار دے لکه څنګه چې د قربانئ د پاره وي- د هغه څاروي غوښه دې غریبانانو او خپلو خپلوانو او نزدې دوستانو او ملګرو ته کچه ورکړے شي یا دې پخه کړے شي او ور دې کړے شي یا دې په

هغوئي باندې د دعوت په طور اوخورلے شي دا ټول صورتونه جائز دي [40] ﴿21﴾ (د عقیقې غوښه) په ټپوسانو، کارغانو خورل هیڅ معنیٰ نه لري، دا (یعني ټپوسان، کارغان) فاسقان دي [41] ﴿22﴾ عقیقه د زیږون شُکر دے ځکه د مَړ کیدو نه پس عقیقه نه شي کیدے ﴿23﴾ د هلک په عقیقه کښې چې (که چرې) پلار [ځاروے] ذبح کوي نو دا دُعا دې لولي:

اَللّٰھُمَّ ھٰذِہٖ عَقِیْقَۃُ ابْنِیْ فُلَانٍ، دَمُھَا بِدَمِھَا وَلَحْمُھَا بِلَحْمِہٖ، عَظْمُھَا بِعَظْمِہٖ وَجِلْدُھَا بِجِلْدِھَا، وَشَعْرُھَا بِشَعْرِہٖ، اَللّٰھُمَّ اجْعَلْھَا فِدَاءً لِّابْنِیْ مِنَ النَّارِ، بِسْمِ اللّٰہِ اَللّٰہُ اَکْبَرُ۔

د فُلان په ځائے چې د ماشوم کوم نوم کیښودے شوے وي یا که لور وي نو په دواړو ځیونو کښې د اِبنِ په ځائے دې بِنتِ او په پینځه واړه ځیونو کښې دې د "ہٖ" په ځائے "ھا" اووائي او که چرې بَل څوک ئې ذبح کوي نو په دواړو ځیونو کښې دې د اِبْنِیْ فُلَان یا بِنْتِی فُلَان په ځائے فُلَان اِبنِ فُلَان یا فُلَانَہ بَنتِ فُلَان اووائي- د هلک دې د هغه د پلار او د جینئ دې د هغې د مور طرف ته نسبت اوکړے شي [42] ﴿24﴾ که چرې دُعا یاده نه وي نو بغیر د دُعا لوستلو دې په زړه کښې خیال راوستلے شي چې د فلانکي هلک یا د فلانکئ جینئ عقیقه ده، بِسْمِ اللّٰہِ اَللّٰہُ اَکْبَرُ دې اولوستلے شي او [ځاروے دې] ذَبح کړے شي عقیقه به اوشي، د عقیقې د پاره دُعا لوستل ضروري نه ده [43] ﴿25﴾ نن سبا عام طور د عقیقې د پاره د دعوت اهتمام کیږي او خپل خپلوان او دوستان رابللے شي کوم چې ښه عمل دے او شرکت کوونکي د ماشوم د پاره ډالئ راوړي دا هم ښه کار دے- البته دلته څه تفصیل دے: که چرې میلمه څه ډالئ را نه وړي نو

بعضې وخت کوربه یا د هغه کور والا د میلمه د بد وئیلو په ګناهونو کښې اخته شي، نو چرته چې یقیني طور یا د غالب ګمان سره داسې حال وي نو هلته میلمه له پکار دي چې بغیر د مجبورئ نه نه ځي، د ضرورت په طور که لاړ شي او ډالئ یوسي نو باک پکښې نشته، البته که چرې کوربه په دې نیت سره [ډالئ] واخستله چې که چرې میلمه ډالئ وَړے نه وے نو دا یعني کوربه به د هغه (میلمه) بد بیانول یا خاص طور نیت خو نه وي خو د دې (کوربه) داسې بد معمول دے نو چرته چې ده (یعني کوربه ته) داسې غالب ګمان وي چې راوړونکے به په داسې طور باندې یعني (د کوربه د) شر نه د بچ کیدو د پاره [ډالئ] راوَړې وي نو اوس اخستونکے کوربه ګنهګار او د اور د عذاب حق دار دے او دا ډالئ د هغه د پاره رشوت دے- آؤ که چرې د بد بیانولو نیت نه وي او نه د ده داسې بد معمول وي نو په ډالئ قبلولو کښې هیڅ باک نشته-

د "اِثمد" د څلورو ټکو په نسبت سره د رانجو پورې کولو 4 سُنَّت او آداب

﴿1﴾ د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: " په ټولو رانجو کښې بهترین رانجه "اِثمد" دي ځکه چې دا د نظر روښانه کوي او بانړه راټوکوي-" (44) ﴿2﴾ د کانړي د رانجو په استعمالولو کښې هیڅ باک نشته او تور رانجه یا کَجَل د ښائسته کیدو په نیت سره د نارینوو د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نه وي نو بیا مکروه نه دي،

﴿3﴾ [45] رانجه د شپې د اوده کیدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ﴿3﴾ [46] د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوؤ طریقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کوؤ: **(1)**: کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلایانې **(2)**: کله په ښئ سترګه کښې 3 سلایانې او په کڼه سترګه کښې 2 **(3)**: نو کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بیا په آخِره کښې یوه سلائي په رجړومه (د رانجو ګسوړه) کښې اووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ [47] د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِیم! په دریو واړو طریقو باندې عمل کیږي- اے عاشقانِ رَسُول! د تکریم (یعني د عزت او بزرګئ) چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خورِ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښې اړخ نه شروع کول، ځکه وړومبے په ښئ سترګه کښې رانجه پورې کړئ بیا په کڼه کښې-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د زُلفانو او د سَر د ویښتو وغیره 22 سُنَّت او آداب

﴿1﴾ د رسولِ کریم، رؤُفٌ رَّحیم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زُلفان مُبارک به کله د غوږونو مبارکو د نیمې پورې وو ﴿2﴾ نو کله به د غوږونو مبارکو د آخرئ حصې پورې او ﴿3﴾ بعضې وخت به چې غټ شول نو د اوګو مبارکو سره به ئې لګیدل [48] ﴿4﴾ مونږ له پکار دي چې موقع په موقع درې واړه سُنَّت ادا کړو، یعني کله د غوږونو د نیمې پورې، نو کله د دواړو غوږونو

پوري او کله تر اوګو پوري ويښته اوساتو ﴿5﴾ د اوګو سره د لګيدو تر حده پوري د زُلفو غټولو والا سُنَّت ادا کول عام طور په نفس باندې ډير ګران وي خو په ژوند کښې يو نيم ځل خو هر يو [نارينه] له دا سُنَّت ادا کول پکار دي، البته د دې خبرې خيال ساتل ضروري دي چې ويښته د اوګو نه ښکته لاړ نه شي، په اوبو سره په ښه طريقې د لمديدو نه پس د ويښتو اوږدېدل ښه ښکاره شي ځکه چې په کومو ورځو کښې ويښته غټوئ په هغه ورځو کښې د غُسل نه پس ئې ګمنځوئ او په غور سره ئې ګورئ چې ويښته چرته د اوګو نه ښکته خو نه ځي ﴿6﴾ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د زنانۏ په شان د اوګو نه ښکته ويښته ساتل د نارينوو د پاره حرام دي [49] ﴿7﴾ حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نارينه د پاره دا جائز نه دي چې د زنانۏ په شان ويښته غټ کړي، بعضې صوفي جوړېدونکي اوږدې اوږدې کمسۍ ساتي کومې چې د هغوئ په سينه باندې د مار په شان خوزيږي او بعضې چونټې کوي (يعني د زنانوۏ په شان ويښته يو ځائے کړي او د شا طرف ته چونټې) جوړوي دا ناجائزه او د شريعت خلاف دي- تَصوُّف د ويښتو غټولو او د رنګ شوۏ جامو اغوستو نوم نه دے بلکه حضورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پوره تابعدارئ کولو او د نفس د خواهشونو ختمولو نوم دے [50] ﴿8﴾ د زنانه سر خَرِيَل حرام دي [51] ﴿9﴾ د زنانوو د سر ويښته کټ کول لکه څنګه چې په دې زمانه کښې نصراني [يعني عيسائيانو] ښځو کټ کول شروع کړي دي نا جائزه او ګناه ده او په هغې

باندې لعنت راغلے دے که خاؤند ورته د داسې کولو اووئیل نو بیا هم دغه حکم دے چې زنانه به په داسې کولو کښې ګنهګاریږي ځکه چې د شریعت په نافرمانئ کښې به د چا (یعني د مور پلار یا خاؤند وغیره) خبره نه منلے کیږي۔ [52] د وړو جینکو ماشومانو ویښته هم د نارینوؤ په طرز باندې مه کټ کوئ، د ماشومتوب نه د دوئ د اوږدو ویښتو ساتلو ذهن جوړ کړئ ﴿10﴾ بعضې خلق (په ویښتو کښې) نیغه یا اُلټا لاره [کرښه] اوباسي دا د سُنَّت خلاف کار دے ﴿11﴾ سُنَّت دا دي چې که چرې په سر باندې ویښته وي نو په مینځ کښې ئې لاره [کرښه] ویستلے شي [53] ﴿12﴾ د نارینه سره اختیار دے چې د سر ټول ویښته اوخَږَئ یا ئې غټ کړي او په مینځ کښې ئې لاره [کرښه] اوباسي [54] ﴿13﴾ د حضور اقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دوه خیزونه ثابت دي۔ اګرچه ویښته خَریل صرف د اِحرام نه د بهر کیدو په وخت ثابت دي۔ په نورو وختونو کښې ویښته خَریل ثابت نه دي [55] ﴿14﴾ نن سبا د قینچئ یا مشین په ذریعه ویښته په خاص طرز باندې کټ کولے شي او چرته غټ او چرته واړه پریښودلے شي، داسې ویښته ساتل سُنَّت نه دي ﴿15﴾ د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: ”د چا چې ویښته وي هغه دې د هغې اِکرام اوکړي“۔ [56] یعني هغه دې وینځي، تیل دې ورکوي [یعني غوړوي دې] او ګمنځوي دې حضرت ابراهیم خلیلُ اللّٰہ عَلَیْہِ السَّلَام د ټولو نه مخکښې د بریتو ویښته اوخَریل او د ټولو نه مخکښې ئې سپین ویښته اولیدلو۔ عرض ئې اوکړو: اے رَبَّہ! دا

څه دي؟ الله پاک اوفرمائيل: ”اے ابراهيمه! دا عزت دے۔“ عرض ئې اوکړو: اے زما رَبَّه! زما عزت زيات کړې۔ (57)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام نه مخکښې د يو نبي يا خو د بريتو ويښته غټ شوي نه وو يا غټ شوي خو وو او هغوئ خَريلي وو خو د هغوئ په دينونو کښې د بريتو خَريلو شرعي حکم نه وو اوس د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام په وجه دا عمل سُنَّتِ ابراهيمي شو (58) ﴿17﴾ پاتې شوي (يعني هغه يو څو ويښته کوم چې د ښکته شونډې او زَنې ترمينځه وي د دې) د خواؤ شاه والا ويښته خَريل يا ويستل بدعت دے (59) ﴿18﴾ د څټ ويښته خَريل مکروه دي (60) يعني چې کله د سر ويښته نه خَريئ صرف د څټ ويښته خَريئ لکه ډير خلق د خط جوړولو سره د څټ ويښته هم خَرَئي او که چرې د ټول سَر ويښته ئې اوخَريل نو د دې سره دې د څټ ويښته هم اوخَريلے شي (61) ﴿19﴾ د څلورو څيزونو په باره کښې حُکم دا دے چې هغه دې ښخ کړے شي، ويښته، نوکان، د حيض کپړا (يعني هغه کپړا په کومه چې زنانه د حيض وينه صفا کړي)، وينه (62) ﴿20﴾ نارينوؤ له د ګيرې يا د سر سپين ويښته سَره کول يا زيړ رنګ ورکول مستحب عمل دے، د دې د پاره نکريزه لکولے شي ﴿21﴾ په ګيره يا په سر باندې د نکريزې لکولو سره اوده کيدل نه دي پکار۔ يو حکيم وائي چې دغه شان د نکريزې لکولو او اوده کيدو سره د سر وغيره ګرمي سترګو ته کوزيږي کومه چې

بینائیئ ته نقصان رسوي- د حکیم د خبرې تصدیق څه داسې اوشو چې یو ځل د سګِ مدینه عُفِيَ عَنهُ خوا له یو نابینا کَس راغلے او هغه اووئیل چې زه پیدائشي ړوند نه یم، افسوس چې په سر مې توره نکریزه اولګوله او اوده شوم چې کله رابیدار شوم نو زما د سترګو نُور تَلے وو! ﴿22﴾ د نکریزې لګوونکو د بریتو، د ښکته شوندې او د ګیرې د خط د غاړې د ویښتو سپینیدل په یو څو ورځو کښې ظاهریدل شروع شي کوم چې په لیدلو کښې ښه نه ښکاري ځکه که چرې بیا بیا ټوله ګیره نشي رنګ کولے نو کوشش کول پکار دي او هرې څلور ورځې پس کم نه کم په هغه ځیونو چرته چې سپین ویښته په نظر راځي لږه لږه نکریزه لګول پکار ده-

د عمامې [پټکي] 25 سُنَّت او آداب

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اووه فرامین: ﴿1﴾ د عمامې [پټکي] سره دوه رَکعته لمونځ د عمامې [پټکي] نه بغیر د 70 لمونځونو نه افضل دے [63] ﴿2﴾ په ټوپۍ باندې عمامه [پټکے] زمونږه او د مشرکانو ترمینځه فرق دے په هر وَل باندې چې مسلمان ئې په خپل سر باندې تاوهي په دې باندې به د قیامت په ورځ یو نُور عطا کولے شي [64] ﴿3﴾ بے شکه الله پاک او د هغه فرښتې دُرُود لیږي د جُمعې په ورځ په عمامې [پټکي] والوؤ باندې [65] ﴿4﴾ د عمامې [پټکي] سره لمونځ د لس زره نیکو برابر دے [66] ﴿5﴾ د عمامې [پټکي] سره یوه جُمعه بغیر د عمامې [پټکي] نه د 70 جُمعو برابر ده

﴿6﴾[67] عمامه [پټکے] د عربو تاج دے نو عمامه [پټکے] په سر کوئ ستاسو عزت به زیاتیږي او څوک چې عمامه [پټکے] په سر کړي د هغه د پاره په هر وَل باندې یوه نیکي ده ﴿7﴾[68] عمامه [پټکے] په سر کوئ ستاسو حِلم به زیاتیږي۔[69] شرح حدیث: یعني د عمامې [پټکي] په سر کولو سره به ستاسو حِلم (یعني د برادشت قوت) زیاتیږي او ستاسو سینه به فراخه کیږي ځکه چې د ظاهري حُلیې ښه کیدل انسان سنجیده او د عزت والا جوړوي او دجذباتي کیدو او د غلطو حرکتونو نه ئې بچ کوي ﴿8﴾[70] په "بهارِ شریعت" جلد 3 صفحه 660 باندې دي: عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه په ناسته اغوندئ،چا چې د دې اُلټا عمل اوکړو (یعني عمامه [پټکے] ئې په ناسته اوتړلو او پاجامه ئې په ولاړه واغوستله) هغه به په داسې مرض کښې اخته شي چې دوائي به ئې نه وي (یعني طبیبانو ته به ئې د دوائیئ علم نه وي) ﴿9﴾ د عمامې [پټکي] تَړلو نه مخکښې اودریږئ او ښه ښه نیتونه اوکړئ ځکه چې یو هم ښه نیت نه وو نو ثواب به نه میلاؤیږي ځکه د موقعې په مناسبت سره دا نیتونه اوکړئ چې د قبلې په لور په ولاړه ولاړه د الله پاک د رضا د پاره په سُنَّت باندې د عمل کولو سره (که چرې د تړلو په وخت د لمونځ تیاري کوئ نو دا هم اووائیئ چې) او د لمونځ د ښکلا حاصلولو د پاره عمامه [پټکے] تړم ﴿10﴾ مناسب دا دي چې د عمامې پیچ (یعني وَل) د سر ښې طرف ته لاړ شي[71] ﴿11﴾د الله پاك د آخري رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې عمامې [پټکي] شمله به

عام طور د (مبارکې ملا) په شا وه او کله کله به ښي طرف ته او کله به د دواړو اوکو تر مینځه دوه شملے وې، کینړ [یعني کځ] طرف ته شمله زوړندول د سُنَّت خِلاف ده [72] ﴿12﴾ د عمامې [پټکې] د شملې مقدار کم نه کم څلور ګوتې او ﴿13﴾ د زیاتو نه زیات (د ملا د نیمې پورې تقریباً) یو لاس (د لاس مینځنۍ ګوتې د سر نه واخله تر څنګل پورې ناپ ته یو لاس وائي)، ﴿14﴾ عمامه [پټکے] مخ په قبله په ولاړه ولاړه ترئ- [74] په "مراٰت شریف" کښې دي: عمامه [پټکے] شریف په ولاړه ولاړه ترل سُنَّت دي، په جمات کښې ئې ترئ یا چرته بل ځائے او [75] ﴿15﴾ په عمامه [پټکې] کښې سُنَّت دا دي چې [کپړا ئې] د دوه نیم ګزه نه کمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زیاته وي او د دې بناوټ (شکل) ګنبد نما [یعني د ګنبد په شان] وي. [76] ﴿16﴾ رومال که چرې غټ وي چې دومره وَلونه راشي کوم چې سر پټ کړي نو دا هم عمامه [پټکے] شو او ﴿17﴾ وړوکے رومال د کوم نه چې صرف دوه یا یو وَل راشي ترل مکروه دي [77] ﴿18﴾ عمامه [پټکے] چې کله د نوي سر نه ترل وي نو څنګه چې مو راغونډ کړے دے هغه شان ئې پرانزئ او فوراً ئې په زمکه باندې مه غورځوئ [78] ﴿19﴾ که چرې د ضرورت په طور کوز کړے شو او بیا د ترلو نیت نه وو نو په یو یو وَل پرانستو باندې به یوه یوه ګناه ختمولے شي- [79] د عمامې [پټکې] **6** طِبي فائدې: ﴿20﴾ د سرتور سر والوؤ په ویښتو باندې یخي او ګرمي او لمر وغیره نیغ په نیغه *(Direct)*

اثر غورځوي د دې نه یواځې ویښته نه بلکه دماغ او مخ هم متاثره کیږي او صحت ته نقصان رسیدے شي- ځکه د اتباع سُنَّت په نیت سره د عمامې [پټکي] شریف په سر کولو کښې د دواړو جهانونو عافیت دے ﴿21﴾ د طِبي تحقیق مطابق د سر د درد د پاره عمامه [پټکے] شریف په سر کول ګټه ور دے ﴿22﴾ د عمامې شریف سره دماغو ته قوت میلاویږي او حافظه مضبوطیږي ﴿23﴾ د عمامې شریف په سر کولو سره دائمي نزله نه وي یا که وي هم نو د هغې اثرات کم وي ﴿24﴾ د عمامې شریف شمله چې ښکته وي نو د فالج نه بچ کوي ځکه چې شمله مازغه د موسمي اثراتو مثلاً د یخنۍ او ګرمۍ وغیره نه بچ کوي ﴿25﴾ شمله د "سرسام" د مرض خطرې کموي- د دماغو د وَرَم (یعني د سوزیدو) مرض ته سرسام وئیلے شي-

د ګوتمې په باره کښې 19 سُنَّت او آداب

﴿1﴾ د نارینه د پاره د سرو زرو ګوتمه په لاس کول حرام کار دے- د دواړو جهانونو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سرو زرو د ګوتمې په لاس کولو نه منع فرمائیلې ده [80] ﴿2﴾ نابالغه (یعني ډیر وړوکي) هلک ته (هم) د سرو زرو سپینو زرو کالے اچول حرام دے او چا چې ورته واچولو هغه به ګنهګاریږي، دغه شان د هلکانو په لاسونو او خپو باندې بغیر د ضرورت نه نکریزه لګول جائز کار نه دے- زنانه ئې پخپله په خپلو لاسونو او خپو باندې لګولے شي، خو که هلک له ئې لګوي نو ګنهګاریږي به [81]

﴿3﴾ د اوسپنې ګوتمه د دوزخیانو کالے دے [82] ﴿4﴾ د نارینوو د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارینوو د ګوتمې په شان وي یعني صِرف د یو غمي والا وي او که چرې په هغې کښې (د یو نه زیات یا) ډیر غمي وي نو که هغه د سپینو زرو ولې نه وي، د نارینوو د پاره جائز نه ده [83] ﴿5﴾ بغیر د غمي نه ګوتمه په لاس کول جائز نه ده چې دا ګوتمه نه ګڑه ده ﴿6﴾ د حُرُوفِ مقطعات ګوتمه په لاس کول جائز ده خو د حُرُوفِ مقطعات والا ګوتمه بے اودسه په لاس کول او دې له ګوتې وروړل یا د لاس میلاوهلو په وخت د لاس میلاوهونکي دې ګوتمې له بے اودسه لاس وروړل جائز نه دي ﴿7﴾ دغه شان د نارینوو د پاره د یو نه زیاتې (جائزې) ګوتمې په لاس کول یا (د یوې نه زیاتې) ګڑې په لاس کول هم جائزې نه دي چې دا (ګڑه) ګوتمه نه ده- زنانه ګڑې په لاس کولے شي [84] ﴿8﴾ د سپینو زرو د یوې ګوتمې د یو غمي وزن چې د څلور نیمو ماسو (یعني څلور ګرامه 374 ملي ګرامو) نه کم وي، په لاس کول ئې جائز دي که هغه د مُهر د حاجت د پاره ولې نه وي، (خو) د دې تَرک (یعني چاته چې د مُهر لګولو ضرورت نه وي د هغه د پاره جائز ګوتمه هم نه په لاس کول) افضل دي او (چاته چې د ګوتمې سره مُهر لګول وي د هغوئ د پاره) د مُهر په غرض سره (په لاس کولو کښې) خالي جواز (یعني یواځې جائز) نه بلکه سُنّت دي، آؤ د تَکبُّر یا زنانه پشان کیدو د سینګار یا بل یو د غندنې مقصد په نیت که وي نو یوه ګوتمه څه

چې په دې نیت سره (خو) ښه جامې اغوستل هم جائز نه دي [85] ﴿9﴾ په اخترونو کښې ګوتمه په لاس کول مستحب عمل دے۔ [86] خو نارینه دې هغه جائز والا ګوتمه په لاس کوي ﴿10﴾ ګوتمه د هغه چا د پاره سُنَّت ده چاته چې د مُهر لګولو (یعني سټامپ یا سیل لګولو) حاجت وي، لکه سلطان او قاضي او عالمان څوک چې په فتوىٰ باندې (د ګوتمې سره) مُهر (یعني سټامپ یا سیل) لګوي، د دې نه علاوه د نورو د پاره چاته چې د مُهر حاجت نه وي سُنَّت نه ده البته په لاس کول ئې جائز دي۔ [87] نن سبا د ګوتمې سره د مُهر لګولو رواج نه دے پاتې، بلکه د دې کار د پاره "مُهر" جوړولے شي، ځکه چې چاته مُهر لګول نه وي د هغه قاضي وغیره د پاره هم ګوتمه په لاس کول سُنَّت پاتې نه شوه ﴿11﴾ نارینه له پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تَلي طرف ته اَړوي او زنانه دې د لاس شا طرف ته ساتي [88] ﴿12﴾ د سپینو زرو ګڑه خاص د زنانوؤ جامه ده د نارینوو د پاره مکروه (تحریمي، ناجائزه او ګناه ده) [89] ﴿13﴾ زنانه چې د سرو زرو او سپینو زرو څومره هم ګوتمې او ګړې په لاس کولے شي، په هغې کښې د وزن او د غمو د شمیرې څه قید نشته ﴿14﴾ د اوسپنې ګوتمې ته د سپینو زرو خول اچول چې هغه بالکل اوسپنه بیخې نه ښکاري، د دې ګوتمې په لاس کول (د نارینه او زنانه دواړو د پاره) منع نه دي [90] ﴿15﴾ په دواړو لاسونو کښې په هر یو لاس کښې ګوتمه اچولے شئ او په قچه ګوته کښې دې واچولے شي [91]

﴿16﴾ د مَنَختې یا دَم کړے شوي دهات ګړه هم د نارینه د پاره په لاس کول ناجائزه او ګناه ده دغه شان ﴿17﴾ د مدینې منورې یا اجمیر شریف د سپینو زرو یا د بَل یو دهات ګړې او د اوسپنې ګوتمه هم جائز نه ده ﴿18﴾ د بواسیرو او نورو بیمارو د پاره دم کړے شوې د سپینو زرو یا بَل یو دهات ګړه هم د نارینوو د پاره جائز نه ده ﴿19﴾ که چرې یو اسلامي ورور د دهات ګړه، ناجائزه ګوتمه یا د دهات زنځیر اچولے وي نو هغه دې هم اوس لرې کړي او توبه دې کړي او بیا د پاره دې د نه اچولو کلکه اراده اوکړي-

حواله جات

(1)مسندالفردوس، 58/2، حدیث: 2329- (2) ابوداود، 374/4، حدیث: 4948- (3) بہارشریعت، 653/3- (4) درمختار، 154/3، 153- بہار شریعت، 841/1- (5) مسند الفردوس، 308/2، حدیث :3392 - (6) جمع الجوامع، 295/7، حدیث :23255- (7) فتاوٰی رضویه، 687/24، مسند ا لفردوس، 535/5، حدیث :9006- (8) الطبقات الکبری لابن سعد، 40/5- (9) فتاوٰی رضویه، 689/24 ملخصا- (10) الدررالکامنة ،431/1، رقم الترجمہ:1134- (11) حاشیۃ الحفنی علی الجامع الصغیر،1/ 149- (12) فتاوٰی رضویه، 690/24 بتغیر قلیل- (13) شعب الایمان، 394/6، حدیث : 8636- (14) فتاوٰی رضویه، 677/24 ملخصا- (15) فتاوٰی رضویه، 681/24، 682 ملخصا- (16) بخاري، 153/4، حدیث: 6193 - (17) فتاوٰی رضویه، 680/24- (18) بہارِ شریعت، 356/3- (19) ترمذي، 382/4، حدیث :2848- (20) مسلم ، ص 1181، حدیث :2139- (21)فتاوٰی رضویه ،684/24- (22) مسلم ،ص1182،حدیث:2142 -(23) ترمذی ،177/3، حدیث:1527- (24، 25، 26، 27) بہارشریعت، 3 /354 ،355،357 - (28) فتاوٰی رضویه، 586/20- (29) اسلامی زندگی، ص27- (30 تا 31) فتاوٰی رضویه 586/20 ،596 - (32) بہار شریعت، 356/3 - (33) فتاوٰی رضویه، 588/20- (34) مصنف عبد الرزاق، 254/4، حدیث:2174- (35) بہار شریعت، 356/3- (36) بہار شریعت،

357/3- (37) بهار شريعت، 357/3- (38 تا 39) بهار شريعت، 357/3- (40) بهار شريعت، 357/3- (41) فتاوىٰ رضويه، 590/20- (42) فتاوى رضويه، 585/20- (43)جنتی زيور، ص 323 - (44) ابن ماجه، 115/4، حديث : 3497 - (45) فتاوىٰ هنديه، 359/5- (46)مرأةالمناجيح ،180/6-(47) شعب الايمان، 218/5 ، 219- (48) الشمائل المحمدية للترمذی، ص18 ،34، 35 - (49) فتاوٰی رضويه، 600/21 تسهيلا- (50) بهار شريعت، 587/3- (51) فتاوٰی رضويه، 664/22 ملخصا - (52 تا 53) بهارشريعت، 588/3- (54) ردالمحتار، 672/9- (55) بهارشريعت، 586/3- (56) ابوداود، 103/4، حديث: 4163- (57) موطّا، 2/ 415، حديث :1756- (58) مرأة المناجيح، 193/6- (59 تا 60) فتاوىٰ هنديه، 358/5، 357 - (61 تا 62) بهارِ شريعت، 587/3، 588، عالمكيری، 358/5- (63) مسند الفردوس، 265/2، حديث: 3233- (64) جامع صغير، ص353، حديث :5725- (65) مسندا لفردوس، 147/1، حديث :529 (66) مسند الفردوس، 406/2، حديث: 3805، فتاوٰی رضويه، 213/6- (67) تاريخ ابن عسا كر، 355/37- (68) كنز العمال، 133/15، رقم: 41138- (69) مستدرک، 272/5، حديث: 7488- (70) فيض ا لقدير، 709/1، تحت الحديث: 1142- (71)فتاوٰی رضويه، 199/22- (72) اشعة ا للمعات، 582/3- (73) فتاوٰی رضويه، 182/22- (74) كشف الالتباس فی استحباب اللباس، ص 38- (75) مرأة المناجيح، 106/6- (76) فتاوٰی رضويه 186/22- (77) فتاوٰی رضويه 299/7- (78) فتاوىٰ هنديه،

330/5- (79) فتاوٰی رضویه، 214/6 ملخصا- (80) بخاری ،67/4، حدیث: 5863- (81)بهار شریعت ،428/3- درمختار و ردا لمحتار، 598/9- (82) ترمذی، 305/3، حدیث : 1792- (83) رد المحتار، 597/9- (84) بهار شریعت، 428/3- (85) فتاوٰی رضویه، 141/22- (86) بهارشریعت، 779/1، 780- (87) فتاوٰی هندیه، 335/5- (88) هدایة، 367/4- (89) فتاوٰی رضویه، 130/22- (90) فتاوٰی هندیه، 335/5- (91) رد المحتار، 596/9-

د غمِ مدینه، بقیع، بخښنې او بے حسابه په
جنَّت الفردوس کښې د آقا د کاؤندِ طلب کا.
17 ربیع الاوّل 1444ھ
14-10-2022
- المَوت

الله پاک
خوش نومونه

فرمان آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

”توهان جي نالن مان الله پاک جي نزديک سڀني کان وڌيک پسنديده نالا عبدالله ۽ عبدالرحمٰن آهن۔“

(مُسلم شريف ص ۹۰۸، حديث:۵۵۸۷)

فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زِره سبزي منڊهي کراچيٰ

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com